# لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً، إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ

له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روایت دی وایي چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- فرمایلي دي: «لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً، إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ» أَوْ قَالَ: «غَيْرَهُ». "مومن سړی دې له مؤمنې ښځې کرکه نه کوي، که د هغې یو خوی یې نه خوښېده، بل به یې خوښ شي» -روای وایي چې-او یا یې وویل چې بل یو یې (یعنې بل خوی به یې خوښ شي).

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم مېړه له خپلې مېرمنې سره له دومره کرکې کولو منع کړی چې له هغې سره د ظلم کولو، د هغې د پرېښودلو او له هغې څخه د مخ اړولو لامل ګرځي. انسان له نیمګړتیا سره پیدا شوی، نو که د هغې یو خوی یې نه خوښېده، بل نیک خوی به یکې ومومي چې د ده په مزاج برابر وي او پرې خوښ شي، او کوم بد خوی یې چې نه خوښېده په هغه به صبر کوي، نو صبر کول یې اړباسي دومره کرکه ترې ونه کړي چې له امله یې ترې جلا شي.



النجـاة الخيـرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee